مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد


آصف بهاند ۲۰۲۵/۰۹/۱۷

# د نجونو تعليم، نوې ستونزې او نوې پېښې

د طالبان لهپاره د نجونو تعليم مسأله دومره حساسه شوې چې که څوک د نجونو د تعليم د مهموالي لهپاره يوه خبره وکړي او يا د هغوی د ښوونځيو د پرانستلو په باب څهووايي، طالب مقامات شديد عکس‌العمل ښيي مقابل لوری زندان ته هم لېږي، ترټولو غوره او نوې بېلګه يې فاروق اعظم دی.

بي بي سي ته ويل شوي چې د طالبانو حکومت فاروق اعظم نيولی دی. فاروق اعظم ته يو لنډکی منسوب ليک د دې خبر د تاييد سند کېدای شي.

زاويه نيوز ليکلي دي چې:
دا هغه ليک دی، چې د طالبانو مبلغ او د برېښنا وزارت سلاکار فاروق اعظم خپل زوی ميرويس ته له زندان څخه لېږلی دی.




دا ليک زاويه نيوز خپور کړی، په ليک کې فاروق اعظم تائيد کړې، چې هغه د خپلو وروستيو څرګندونو له وجې نيول شوی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

نوموړي په دې ليک کې ليکلي، چې هغه د امر بالمعروف قانون د کمزوريو په ګوته کولو او د ښځو د تعليم موضوع مطرح کولو له وجې نيول شوی دی.

فاروق اعظم د طالبانو پلوي، لابي‌ګر او د طالبي واکمنۍ لوړوړی مقام (د اوبو او برېښنا وزارت سلاکار) ګڼل کېده. فاروق اعظم د کونړ زلزلې د ستونزې په حل کې د ټيپانو د درملنې له پاره د ښځينه ډاکترانو مرسته غوښتې وه او دا يې ورسره ويلي وو چې که ښځينه طبي کارکونکې د کونړ د زلزلې د ټپيانو په درملنه کې عملي مرسته وکړي، نو هغو طالب مقاماتو ته ــ چې د نجونو د تعليم مخالف دي ــ دا ثابته شي چې د نجونو تعليم څومره مهم دی او په تعليمي نصاب کې ساينسي مسايل څومره مهم دي.

دا خبرې د فاروق اعظم له ادرسه ميډيا خپرې کړې دي:

«په افغانستان کې دننه او بهر په ټوله نړۍ کې هر ځای چې ښځينه روغتيايي پرسونل شته، که کولای شي عاجل دې کونړ ته ځانونه ورسوي. دا به نه يوازې له خپلو وطنوالو سره پروخت بشري مرسته وي، بلکې په ټولنه کې به د ښځې د تعليم د اهميت عملي يوه ښه بېلګه هم وي. هغو کسانو ته به هم د عين اليقين په شکل درس شي چې د ښځو تعليم ګټور نه بولي. ايا زموږ تعليم يافته ښځې په ټولنه کې د خپل مقام د تثبيت لپاره ابتکار او قرباني ورکولای شي؟ دغه يې وخت دی.»

د ښاغلي فاروق اعظم د توقيف په خاطر استاد خالق رشيد د يوې لنډې مقالې په چوکاټ کې داسې خپل غبرګ اوچت کړی دی:

«دجهل په تورتم کې به اوسيږمه ترکومه
ما څوک دعلم وفن پوهې رڼا ته نه پرېږدي
ګل پاچا الفت
د پوهې اوړنا په خاطر
دزندان د پنجرو پرلور
دهندوستان له پخواني لومړي وزيراتل بيهاري واچپايی څخه يوه ژورنالست پوښتنه وکړه چې :
- ته يوشاعر، يوملي ټيپه سياستوال چې دا اوسني واکمن ګوند غړی، لومړی وزيرهم يې، کومه تګلاره چې ستا ګونديی خاري ته هم فکرکوي چې لوی هندوستان بايد يوازې دهندوانوله پاره وي، له دغه حالت سره ته يوه خوله يې؟
واچپايی له دې امله چې د واکمن ګوند د تند مزاجې ډلې له ګوزارونويې ځان بچ کړې وي ډيرلنډ ځواب ورکړ :
- زه يو هندوستانی ،روک راست ملي پالی، ډيرښه سړی يم، خودريغه چې په ډيربد وخت اوډيربدځای کې را ښکيل شوی يم... له دغې يادونې څخه مې د افغانستان په اوسنيوحالاتوکې نن دهمداسې يوه سياستوال محترم ډاکترفاروق اعظم صاحب د بندي کيدوخبرو، چې زما اوډيروپه پوهه اوترقي مينوافغانانو له پاره ترکومه ځايه چې محترم ډاکترصاحب اعظم اودهغه شخصيت پيژنو دډيرې خواشينې وړخبرو. ډاکترصاحب اعظم دافغانستان دتيرې نيمي پيړۍ په سياست کې ښکيل افغان سياستوال و، زه دده دريځ ان د مجاهدينود کابل دغوبل له وخت ځارم چې کله يې هم له ملي اومترقي سرو کرښوپرهغه خوا ګام نه دی ايښی، په خپل دريځ باوري اوپه خپل وخت کې يې دبې عدالتي اوملي ضد تګلاروپه وړاندې خوله پټه نه ده نيولې، يومسلکي انجنيردی چې لوړې زده کړې لري اودغه علمي اومسلکي وياړيې لکه ديوشميرنا انجينرويارانوپه شان تش په نامه نه دی په برخه شوی. له تيروڅوکالوزه ډاکترصاحب ويناوې اورم اوان چې کله کله مې خپل نظرهم له ده شريک کړی دی. خوپردې پوهيدم چې دا دملت اوخلکوپه ګټه خبرې به يې يوځل بيا لکه چې اشرف غني به يومهال له ده پرته په ارګ لمونځ نه کاوه اوچې کله ونګوښيده او لکړه يې لګوله ده ورته ويلي ووچې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

ته له دغه افغاني پرتوګ سره عادت نه یي لړپام کوه چي پښه په کې بنديږي... چي بيا همدغه رښتياني خبره په يوه لوی واټن باندي واوښته...
اوترټولومهمه لادا چي ده تل دښووني او روزني اوهغي بې عدالتي په وړاندې چي په دغه برخه کې ديرغلګرامريکايي ځواک اودهغود لاسپوڅوله خوا عملاً په افغانستان کې په نا انډولې سره روانه وه ترسخت انتقاد لاندې ونيوه چي ويديوګانويي اوس هم زموږ په وړاندې يوبشپړملی اومترقي لاسوند کيدای شي. ما نن بيا دده له درده ډک ليک چي د ژورې خواشينی وړدی دميديا پرمخ ولوست چي په هغه کې خپل زوی اوکورنی ته ليکي: «زه په توقيف کې يم، زما موضوع د ښځود تعليم، عصري علوم، اود امربالمعروف دقانون دکمزوريوپه ګوته کول دي. داهغه څه دي چي زه تردغه سخت چلند ته تياريم...»
دا له شکه پرته يواوچت انساني غږدی چي په اوسنيوحالاتواودغوتګلاروپه وړاندې چي دتعليم اوعلم په وړاندې رواني دي او هيڅ ډول ملي اوديني توجيه څوک نه شي ورته موندلای نړيوال ضميرلړزوي اوپاروي، دا دهمدغه لوی انسان ډاکټر فاروق اعظم اوچت غږوچي دهغه د ا وچتيدوپه خاطرپه سپيڅلي ارادې سره دافغان ملت دنوي نسل د راتلونکي دخوندي ساتني په خاطرپورته شو. چي باوردی نه يوازې به يي سرلوړي افغانان بدرګه کړي بلکی نړۍ ته به هم د تورتم او جهل په وړاندي دمبارزې اومقاومت اوچته بيلګه شي.
راځي چي په يوآوازه سره ووايوچي :
موږد ډاکترفاروق اعظم له غږ سره خپل ملاتړاعلاموواوله هرډول ښکيل اوبندڅخه دهغه زرترزره آزادي غواړو.
په درنښت
پروفيسور رشيد – دنهروپوهنتون استاد» ما لا پخوا ويلي او خپاره کړي وو چي:

په افغانستان کې د نجونو د ترلو ښوونځيو مسأله اوس په يوه ناسور زخم بدله شوې ده، هرڅومره چي شاربل کېږي، هغومره اوږدېږي او ښايي دا موضوع د طالبانو د حاکميت پايي وښوروي او يا داسي زلزله پرې ورګډه کړي چي د د طالبانو د واک او ځواک لمنه پسي ورټوله کړي؛ ځکه دوی نه د نورو غږ او خبرې اوري او نه د خپلو همسنګره ملګرو مشورې مني.

د نجونو د تعليم د پلويانو د زنداني کولو لړۍ به ترڅو پورې دوام کوي: مطيع‌الله ويسا د ترلو ښوونځيو دروازې خلاصولي، زندان ته ولېږل شو، د طالبانو د سنګر ملګری او د طالبانو د بهرنيو چارو سياسي معين عباس ستانکزی جيل ته د لويدو له ډاره وطن پرېښود بهر ته ووت. ګناه يي دا وه چي ويلي يي وو:

«په افغانستان کې د نجونو پرمخ د ښوونځيو او پوهنتونونو بند پاتې کېدل د هغوی پر حقونو تجاوز او دوی سره ښکاره ظلم دی.» او تراوسه داسي خاموشه دی لکه مړ چي وي او دا دی اوس هم فاروق اعظم د زندان ميلمه شو.

زه فکر کوم چي په دې سانسورنو، زندانونو او ډارولو باندې دا ناسور زخم نه رغېږي، ښه خبره به دا وي چي د افغانانو او نړيوالي ټولني غږ واورېدل شي او په درناوي سره د نجونو او ښځينه محصلانو د ټولګيو دروازې پرانيستل شي. دا به هم د خلکو او وطن په ګټه وي او هم به د حاکم رژيم په خير تمامه شي. داسي نه‌شي چي نړيواله ټولنه مجبوره شي چي بيا د افغانستان خلک پخوانيو غلو او لېوانو ته وروسپاري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ